# هغه رګ دی، خو د هغو ورځو په اندازه لمونځ پرېږده څومره به چې مخکې حيض کېدلې، بیا غسل وکړه او لمونځ وکړه

له ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې فاطمه بنت أبی حبيش له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه ويې ويیل: زه چې حيض شم نه پاکيږم، نو آيا لمونځ پرېږدم؟ هغه وفرمايل: «نه، هغه رګ دی، خو د هغو ورځو په اندازه لمونځ پرېږده څومره به چې مخکې حيض کېدلې، بیا غسل وکړه او لمونځ وکړه».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

فاطمه بنت حبيش له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه ويې ويیل: زما وينه نه درېږي او همداسې جاري وي تر دې چې د حيض نېټه هم تېره شي، نو آيا حکم يې د حيض حکم دی چې لمونځ پرېږدم؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: هغه د استحاضې وينه ده چې په حقيقت کې د ناروغ وينه ده او په رحم کې د يو رګ د پرې کېدو له امله رامنځته کېږي او د حېض وينه نه ده. نو کله چې د حيض وخت راشي چې ته به پکې د مياشتني عادت له مخې حيض کېدلې مخکې لدې چې دا ناروغي درته پيدا شي، نو لمونځ، روژه او هر هغه کار پرېږده چې حيض لرونکي ترې د حېض پر مهال منع شوي دي. او کله چې د هغه نيټې په اندازه وخت پای ته ورسيږي، نو ته به له حېض څخه پاکه شوې يې، نو د وينې ځای ومينځه، بیا دې ټول ځان په بشپړه توګه ووينځه چې بې اودسۍ درڅخه لاړه شي، بیا لمونځ وکړه.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3029

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee